**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوښتنې ځواب

## له يهودي ادارې څخه د امريکايي جګپوړي نظامي پلاوي ليدنه

(ژباړه)

**پوښتنه:**

د مصر «صدي البلد» وېبپاڼې پنجشنبه، د ۲۰۲۳م کال د مارچ پر ۲۷ مه، وليکل، «د امريکا دفاع وزارت پنج شنبه اعلان وکړ چې د امريکا دفاع وزير لويډ اسټين د اسرايلو لومړي وزير بينيامين نتنياهو سره هوکړه کړې چې د ايراني يرغل د مخنيوي لپاره خپله همکاري زياتوي.» د دواړو اړخونو د ليدنې ځای د وروستيو لاريونونو په سبب له دفاع وزارت څخه د تل ابيب هوايي ډګر ته ولېږدول شو: [«د امريکا دفاع وزارت وويل چې د اسټين د ليدنو ځای د اسرايلو له دفاع وزارت څخه د تل ابيب هوايي ډګر ته نيږدې بل ځای ته بدل شو. لسګونه زره لاريونوال شنبه د نهمې اوونۍ لپاره د اسرايلو ښې اړخي لومړي وزير، نتنياهو د هغه پلان پر ضد د ښارونو سړکونو ته ووتل چې غواړي قضايي سيستم تعديل کړي». (رويټر، ۲۰۲۳/۳/۸)]. له يهودي ادارې څخه د جګپوړو امريکايي چارواکو د ليدنو موخه څه ده؟ ايا دا په اوکراين کې د روسيې له جګړې سره تړاو لري؟ او که د فلسطين د وضعيت اراملو لپاره دی او يا نورې موخې لري؟ الله سبحانه وتعالی دې اجر درکړي.

**ځواب:**

د ځواب د روښانه کېدو لپاره دغه موضوعات څېړو:

**لومړی:** داسې نه برېښي چې د دغو سفرونو موخه دې د اوکراين پر وړاندې د روسيې په جګړې کې د يهودي ادارې د بې پلوۍ مخه نيول او د امريکا پشان د روسيې ضد سخت دريځ نيول وي؛ ځکه چې روسيه اسرايلو ته اجازه ورکوي چې د سوريې دننه پر خپلو موخو بريدونه وکړي او په دې برخه کې د روسيې ځانګړي دفاعي سيستم سره نه مخ کېږي؛ په ځانګړي ډول دا چې يهودي اداره اوس په کور دننه د سياسي اپوزيسيون له مخالفت سره مخ ده. نو د اوکراېن د ملاتړ په موخه د غربي هيوادونو رضايت او له هغو سره يو ځای کېدل يې لومړيتوب نه دی. ځکه خو لرې برېښي چې د امريکايي پوځي چارواکو د دغو سفرونو موخه دې د اوکراين موضوع وي.

دغه راز، داسې هم نه برېښي چې موخه يې دې د فلسطين د وضعيت ارامول وي؛ که څه هم د فلسطين قضيه ورته مهمه ده او پخوا به د امريکايي چارواکو لکه د بهرنيو چارو وزير، د سي آی اې مشر او د ملي امنيت سلاکار، د سفرونو موخه همدا وه؛ خو دا ځل که څه هم دا موضوع مهمه او حساسه ده، خو ممکنه نه ده چې د امريکا د

دفاع وزیر د دغه سفر اصلي موخه دې وي. اوس هلته واقعیت داسې نه دی چې امریکا دخالت وکړي او خپل لوړپوړي پوځي چارواکي پکې بوخت کړي.

**دوهم:** ښکاري چې د دغو سفرونو موخې نورې وي چې له لاندې عواملو پرې پوهېدی شو:

۱- نتنیاهو د امریکا له جمهوري غوښتوونکي ګوند سره نیږدې اړیکې لري، کله چې ډیموکرات ولسمشر اوباما په ۲۰۱۵م کې له ایران سره هستوي تړون لاسلیکاوه، نوموړي یې پر ضد ودرېد. هغه اوباما غوسه کړ، په ځانګړي ډول کله چې یې د امریکا کانګریس ته د هستوي تړون پر ضد وینا کوله. د ټرمپ ادارې په وخت کې نتنیاهو له هغه سره ډېرې نیږدې اړیکې لرلې، ټرمپ له تل ابیب څخه بیت المقدس ته د خپل سفارت په لېږدولو، د اسراېلو د خاورې په توګه د جولان سیمې په رسمیت پېژندلو او په لوېدیځه غاړه کې د پېړۍ معاملې د پلان ورکولو – چې هېڅکله بشپړ نه شو- نتنیاهو ونازاوه.

۲- کله چې ډیموکرات ولسمشر بایډن واک ته ورسېد، امریکا د لاپید او بنیت ګوندونو د ایتلاف ملاتړ وکړ، په دې برخه کې بریالی هم شو چې په پایله کې یې نتنیاهو د ۲۰۲۱م کال د مارچ په ټاکنو کې ماته وخوړه او د بنیت-لاپید ګوندونو ایتلاف واک ترلاسه کړ. خو دغه بري ډېر دوام ونه کړ او نتنیاهو له ښي اړخو سختدریځو ګوندونو سره ایتلاف وکړ او د ۲۰۲۲م کال د نومبر ټاکنې یې وګټلې.

۳- نتنیاهو په ډېر جدیت پرېکړه وکړه چې حکومت یې له ښي اړخه سخت دریځو سره په ایتلاف جوړ کړي او په حکومت کې یې د لاپید ګوند او په ځانګړي ډول غنتس د شریکولو په اړه د بایډن غوښتنو ته شا کړه. کله چې نوي حکومت خپل دریځونه اعلان کړل، د امریکا له سختو او نا معمولو نیوکو سره مخ شو؛ لکه د دوو دولتونو پر تشکیل د پابندۍ اړتیا، د نوي دولت له هغو وزیرانو سره د همکارۍ نه کول چې په تندلارۍ مشهور دي او په اسرایلي اداره کې د قضایه قوې د بدلون په تړاو د نتنیاهو پر تګلارو نیوکه. که څه هم دې ته د یهودي ادارې د کورنۍ موضوع په سترګه کتل کېږي، خو امریکا پر دې تګلاره ښکاره نیوکه وکړه او خپل طرفداره ګوندونه یې وهڅول چې په قضایه قوه کې د نتنیاهو د نفوذ پیدا کېدو مخه ونیسي او مخالفت یې وکړي.

۴- د نتیاهو د حکومت مخالفو یهودیانو ده ته ډېر وخت ور نه کړ او پر وړاندې یې پراخ لاریونونه پیل کړل چې له دې وړاندې یې ساری نه لیدل کېږي. د واک پر سر شخړې دومره زیاتې شوې چې خونړیو جګړو ته ورته دي. له یهودي ادارې څخه یو نوی تصویر رامنځته شو چې پخوا کله هم نه و لیدل شوی: د حکومت او د حکومت د دغې پرېکړې پر وړاندې د خلکو لاریونونه چې د قضایه قوې واک په لاس کې اخلي؛ د لاریونوالو له لوري د چاروکاو د کورونو محاصره کول، لارې او کوڅې بندول او د ټیاټرونو سوځول، د یهودي دولت د پولیسو لخوا اوښکې بهوونکې ګاز کارول او د لاریونوالو لور ته د صوتي بمونو غورځول. وضعیت ورځ په ورځ خرابېږي، تر دې چې ځینو پولیسو

د زور له لارې د لاریونوالو د پاشلو په اړه د دولت امر ونه مانه؛ د حکومت او مخالفو گوندونو تر منځ اخلاف زور اخیستی او یهودیان په دوو مخالفو جبهو ویشل شوي. لویو پانگوالو له یهودي ادارې څخه په تېښته پیل وکړ، ۵۰ ستر شرکتونو ولاړل، احتیاطي ځواکونو د حکومتي دستورونو په پلي کولو کې خپله ناتواني اعلان کړه او د حکومت او اپوزیسیون د ملاتړو ترمنځ فضا په هره سطحه ترینگلې شوې. د دغو تحولاتو په اړه د بایدن اداري له دریځونو ښکاري چې د نتنیاهو د مخالفانو ملاتړ کوي.

**درېیم:** وضعیت د گډوډۍ لور ته روان و، په دې وخت کې نتنیاهو هڅه وکړه چې یهودیان پر ځان را ټول کړي او د دې لپاره یې د فلسطین د قضیې پر اور تېل واچول؛ داسې چې لومړی یې پر الاقصی مسجد د ډېرو یهودو هجوم ته لار برابره کړه او د جنین او نابلس سیمو کې یې نوې عاموژنې وکړې. نتنیاهو له دې لارې غوښتل د فلسطینیانو پرضد یهودو ته خپله ژمنتیا وښیي. ده هیله لرله چې کورنی نا ارام وضعیت به ارام کړي او په خپله گټه به په قضایه قوه کې بدلون ته لار برابره کړي، تر څو د ځان اړوند د فساد قضیې د یهودو له محکمو لرې کړي؛ د فساد دا تورونه له ډېر وخت راهیسې د تېرې تورې پشان د ده پر ستونې پراته دي. خو نتنیاهو یې دغو موخو ته ونه رسېد او له فلسطینیانو سره شخړې د ده په زیان شوې؛ د جنین د عاموژنې ځواب په بیت المقدس کې د اتو یهودو په وژلو ورکړل شو او د نابلس د عاموژنې ځواب په حواره او اریحا کې په دوو عملیاتو ورکړل شو؛ په دې توگه نتنیاهو له نور سخت حالت سره مخ شو. د یهودي ادارې دننه اپوزیسیون سختې نیوکې پرې وکړې؛ په امنیتي برخه کې په ناکامۍ تورن شو او دا چې سیاستونه یې د دې سبب شوي چې فلسطینیان پر یهودو ډېر بریدونه وکړي. دلته نو نتنیاهو باید یوه بله حللاره پیدا کړې وای.

**څلورم:** د دې لپاره چې یهودیان یې تر شا ودرېږي او په واک کې پاتې شي، نتنیاهو په بیړه خپل پلان پر ایران باندې برید سره تعدیل کړ. دا واقعیت بېلابېل دلایل لري چې تر ټولو مهم یې دا دي:

۱- په داسې حال کې چې فلسطینیان د یوه یوه برید ځواب وایي؛ شاوخوا او نیږدې حکومتونه یې لا هم د خپلو بادارانو تابع دي او هېڅ اغېزناک غبرگون نه ښیي. مثلاً سوریه او عراق د یهودو د یوه وحشیانه برید ځواب هم نه وایي. ان ایران چې یهودي اداره یې په اصفهان کې پر نظامي کارخونو د بې پیلوټه الوتکې په برید تورنه کړه؛ د دغه برید ځواب یې دوې اونۍ وروسته په عربو بحیره کې پر یوه کښتۍ په برید ورکړ چې د یوه یهودي وه او هېڅ تلفات یې نه لرل. له دې پېښې وړاندې هم ایران یهودي اداره خپلو هستوي تجهیزاتو ته په زیان اړولو تورنه کړې وه چې د ایران مخکیني ولسمشر یاد زیان ۱۰ ملیارد ډالر ښودلی؛ هغه وخت هم ایران هیڅ غبرگون ونه ښود. دا په دې معنی ده چې نتنیاهو له ځان سره دا حساب کړی چې د یهودو د برید پر وړاندې د ایران غبرگون ډېر ناڅېزه دی او د ده موخې پوره کولی شي؛ د نتنیاهو دغه باور دی لا ډېرو بریدونو او تېریو ته هڅوي.

۲- د ایران اټومي پروګرام په تړاو باید ووایو چې، ایران له لویو او دوامدارو نړیوالو نیوکو سره مخ دی او له لویو قدرتونو سره یې هوکړې ته د ستنېدو په تړاو خبرې اترې ناکامې شوې. دغه راز یهودي اداره په وار وار اعلانوي چې ایران ته د دې اجازې ورکول شوني نه دي چې اټومي وسلو ته لاسرسی پیدا کړي. دا هغه موارد دي چې د ایران پر اټومي دستګاوو باندې د اسراییلو بریدونه توجیه کوي. په دې برخه کې باید ووایو چې ایران د غرب له لوري له سرو کرښو په تېرېدو او د یورانیمو په غني کولو تورن دی: [د ساینس او نړیوال امنیت بنسټ وایي چې ایران په ۱۲ ورځو کې د اټومي بم لازم مواد برابرولی شي او دا توان لري چې تر یوې میاشتې څلور نور اټومي بمونه جوړ کړي. د دغه بنسټ د یوه راپور له مخې؛ د ایران حاکم رژیم دا وړتیا لري چې په درېیو میاشتو کې د اوو ۷ اټومي بمونو لپاره یورانیم غني کړي. یاد بنسټ دغه اظهارات په هغه راپور کې خپاره کړل چې د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې لخوا ترلاسه شوي معلومات یې پکې تحلیل او څېړلي وو. (العربیه نېټ، ۲۰۲۳/۳/۵)].

**پنځم:** که ښه ځیر شو، پوهېږو چې نتنیاهو پر دغو موضوعاتو تمرکز کوي او د ایران پر ضد د ځواکمنو بریدونو په پلانولو سره غواړي یهودیان په ځان او خپل حکومت راټول کړي او داخلي ګډوډیو ته د پای ټکی کېږدي او واکمني یې کمزورې نه شي. که نتنیاهو دغو ګډوډیو ته تسلیم شي او د مهارولو لپاره یې یو لوی اقدام ونه کړي؛ ستونزې یې زیاتېږي او حاکمیت ته یې ګواښ کېږي. داسې ښکاري چې د نتنیاهو د حکومت د ارادې او پلانونو خبرونه تر واشینګټن پورې ورسېدل، امریکا هم د دغه اقدام د مخنیوي لپاره لاس په کار شوه. ځکه چې اوس د امریکا پام د خپلو ګټو پر بنسټ په اوکراین کې د روسیې جګړې او د چین موضوع ته دی او نه غواړي چې په سیمه کې د ایران او یهودي ادارې ترمنځ په جګړه کې ښکېله شي. امریکا پوه شوې چې نتنیاهو د خپل داخلي کړکېچ حلولو په موخه له ایران سره د جګړې په تړاو جدي فکر کوي او دغې موضوع بایدن اندېښمن کړی؛ ځکه چې امریکا په خپلو ډېرو اظهاراتو کې د خپلو چارواکو لخوا په وار وار ویلي چې د یهودي دولت امنیت ټینګولو ته ژمن دي؛ خو لکه څنګه چې وویل شول، امریکا اوس په نورو جګړو کې بوخته ده.

**شپږم:** یهودي ادارې ته د امریکایي لوړپوړو پوځي چارواکو وروستي سفرونه د دې لپاره وو چې نتنیاهو د ایران پر وړاندې له جګړې راوګرځوي، ترڅو بایډن هلته ښکېلېدو ته اړ نه شي؛ ځکه امریکا اوس نه غواړي چې له چین او د اوکراین پر وړاندې د روسیې له جګړې پرته پر بل څه ځان بوخت کړي. لکه څنګه چې وویل شول؛ دغه سفرونه د امریکا د دغوو دوو ګټو ساتلو لپاره شوي:

الف: امریکا د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې مشر وهڅاوه چې د ایران د اټومي پروګرام په تړاو نرم بیانونه ورکړي او د ایران پر وړاندې نرم دریځ غوره کړي. د دغې ادارې مشر له ایراني لوړپوړو چارواکو سره په داسې حال کې ناسته وکړه چې په ورته وخت کې امریکایي چارواکي له سیمې څخه په لیدنه بوخت وو. نوموړي په دې برخه کې د یوه لوی پرمختګ خبر ورکړ او ویې ویل: «ایران هوکړه کړې چې په بېلا بېلو سایټونو کې څارونکو کیمرو ته بیا ځلې

اجازه ورکړي او په پلټنو کې زیاتوالی راولي» (ار تي، ۲۰۲۳/۳/۴). بیا د دغې اداري د مشر د پام وړ بیان وشو چې د الجزیرې نېټ ۲۰۲۳/۳/۵ په حواله په لاندې ډول دی: (رافایل ګروسي شنبه د تهران سفر په ترځ کې وویل: « پر اټومي تاسیساتو هر راز پوځي برید ناقانونه دی». نتنیاهو د ده په ځواب کې وویل: «رافایل ګروسي... نامناسب اظهارات وکړل».

ب: د نتنیاهو پر وړاندې د وروستیو اعتراضونو شدت ته په کتو، امریکا اوسمهال نه غواړي چې یهودي اداره د ایران پر وړاندې جګړه پیل کړي؛ بلکې غواړي چې نتنیاهو په داخلي کړکېچ کې ښکېل پاتې شي او لاریونونه دومره شدت پیدا کړي چې په پایله کې يې د نتنیاهو حکومت ړنګ شي، ترڅو د امریکا د ډیموکرات ګوند پلویان د یهودي اداري واک بیا ځلې خپل کړي... امریکا د یهودي اداري په سیاسي او پوځي حلقو کې پراخ نفوذ لري.

**اووم:** داسې ښکاري چې امریکا به په ډېر احتمال وتوانېږي چې نتنیاهو له ایران سره له تهاجمي جګړې رامنعه کړي؛ په ځانګړي ډول دا چې یهودي اداره دومره ډارنه ده چې د امریکا له ملاتړ پرته دا جګړه نه شي پیل کولی.

**ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللَّهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ**

**ژباړه:** «په دوی باندې ذلت مسلط شوی دی، هر ځای چې دوی ومونډل شي، مګر (دا چې دوی منګولې ولګوي) د الله په رسۍ او د خلکو په رسۍ.» [ال عمران: ۱۱۲]

دا د قضیې یو اړخ و؛ له بل اړخه، که نتنیاهو پر ایران د برید تمه له لاسه ورکړي، نوموړی به قطعاً په امریکا کې د خپلو جمهوري غوښتونکو بادارانو په همغږۍ د بل برید اقدام وکړي ترڅو د ځان پر وړاندې د مخالفانو خوځښتونه راکم کړي. هغه ښايي په فلسطین کې د شخړو له زیاتولو، پر غزې تړانګې یا پر لبنان له برید پرته بل بدیل پیدا نه شي کړای. نتنیاهو د واک لیونی دی او په هیڅ وجه واک پرېښوولو ته حاضر نه دی. هغه پرځان د ښي لاسو ګوندونو ایتلاف او یهودي مذهبي کسان راټول کړي، هغوی په هرځای کې تر نوموړي زیات د مسلمانانو وینې تویولو ته تږي دي.

دا واقعیت ورو ورو راڅرګندېږي؛ سما نیوز پنجشنبه د **۲۰۲۳**م کال د مارچ پر **۹**مه خبر خپور کړ: (اشغالګرو ځواکونو نن سهار د جبع ښارګوټي په جنین سیمه کې درې فلسطینیان شهیدان کړل. اسرایلي ځانګړي ځواکونه د جبع ښارګوټي د جنین سیمې سویل ته دننه شوه او پر یوه موټر یې ډزې وکړې چې څلور ځوانانو پکې سپاره وو؛ له دې ډلې درې ځوانان شهیدان شول. د مقاومت ډلې له دغو ځواکونو سره ښکېلې شوې او بیا نور مرستندویه ځواکونه ښارګوټي ته راورسېدل؛ بلاخره اسرایلي ځواکونه له ښارګوټي ووتل). فرانس **۲۴** هم د **۲۰۲۳**م کال د مارچ پر ۱۰مه خبر ورکړ چې: (القدس ای ایف پي- اسرایلي پوځ او د فلسطین د عامې روغتیا وزارت اعلان وکړ

چې په اشغال شوې لوېدیځه غاړه کې جمعه یو فلسطینی د یوه اسرایلي له لوري شهید کړای شو. د تاوترخوالي د څپو په ترځ کې نن د ورځې په لومړیو کې څلور فلسطینیان شهیدان شول؛ یو یې هغه کس و چې په تل ابیب کې یې پر اسرایلیانو برید وکړ او درې تنه یې ټپیان کړل. پنجشنبه یوه فلسطیني د تل ابیب پر ډیزینگوف سړک ډزې وکړې چې په پایله کې درې تنه ټپیان شول، چې په هغوی کې د اسرایلي روغتیایي سرچینو په قول د یوه ټپي حالت نازک ښودل شوی دی؛ بریدگر د پولیسو لخوا ووژل شو. له بل پلوه، اسرایلي پولیسو وویل چې هغوی دوه تنه نیولي چې یو پکې د تل ابیب په سویل کې د راماللا ښار او بل د نجوف په سویل کې د کیسفا ښار اوسېدونکي دي، پر دوی د ډیزینگوف بریدگر د لېږدولو تور پورې شوی دی).

یهودي دولت مسلمانان نیسي او وژنې یې او د دې کار لپاره په خپل شاوخوا کې د مسلمانانو له حکامو د کوم گواښ وېره نه لري!

**اتم:** یهودي اداره په سیمه کې د سرطان دانې ته ورته ده چې د سیمې یو حاکم یې هم د له منځه وړلو یا ان مخنیوي لپاره څه نه کوي؛ بلکې له دغې ادارې سره د اړیکو په عادي کولو کې له یو بل سره سیالي کوي! دوامدار دا فکر کوي چې د یهودي ادارې شتون ته خطر او گواښ پېښ نه شي. یوازې یهودي رژیم نه دی چې د ځان پر وړاندې گواښونه له منځه وړي، بلکې دغه خاین حکام په خپله چوپتیا له دوی سره لویه همکاري کوي! یهودي اداره پر اسلامي خاوره، د فلسطین پر مقدسه ځمکه پرته ده؛ نو له دوی سره اړیکې باید د جگړې اړیکې وي؛ له دوی سره اړیکې عادي کول یو ستر جرم دی:

**إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ**

**ژباړه:** «بېشکه الله سبحانه وتعالی تاسو له هغو کسانو سره له دوستۍ کولو څخه منع کوي چې له تاسو سره یې په دین کې جنگ کړی دی او تاسو یې له خپلو کورونو څخه ایستلي یاست او ستاسو په ایستلو کې یې یو له بل سره مرسته کړې ده، او هر هغه څوك چې له دوی سره دوستي وکړي، نو همدغه کسان ظالمان دي» ( الممتحنة: ۹)

دا د شریعت حکم دی چې باید پلی شي. د اسلامي نړۍ حاکمان د دغه حکم پلي کول نه غواړي یا یې باداران اجازه نه ورکوي؛ خو باید په یاد ولرو چې دا یو ژوندی امت دی او د ظلم او نابرابرۍ پر وړاندې د ډېر وخت لپاره چوپ نه پاتې کېږي؛ که چوپ هم وي، دغه چوپتیا د زمري چوپتیا ده چې تر برید وړاندې وي. دغه امت به بیا ځلې اسلامي ژوند ته ستنېږي او دویم راشده خلافت به تاسیسوي، انشاالله. خلیفه به امت را غونډ کړي او د

اسلامي پوځ په رهبري کولو به یهودیان تر پښو لاندې کړي او لکه څنګه چې لومړی ځل ورننوتلي وو، همغسي به بیا مسجد الاقصی ته ننوځي او د یهودو غرور به له خاورو سره خاورې کړي!

**وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيباً**

**ژباړه:** «اودو وایي :دا به کله وي؟ ته ووایه: امېد دی چې ډېر به نیږدې وي» ( الإسراء: ۵۱)

**۱۴۴۴هـ.ق، د شعبان ۱۸مه**

**۲۰۲۳م کال د مارچ ۱۰مه**